## د ملکي خدمتونو د بستونو د دندو لایحه

**د بست په اړه معلومات:**

| | |
|---|---|
| شماره اعلان پست: | |
| د دندې عنوان: | مالي او حسابي کارپوه |
| بست: | ۴ |
| وزارت یا اداره: | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون |
| اړونده څانګه: | د کمېسیون د دارالانشا ریاست |
| د پست ځای: | کابل (مرکز) |
| د بستونو شمېر: | ۱ |
| راپور ورکوونکی: | مالي او حسابي آمر |
| راپور اخیستونکی: | تر اثر لاندې کارکوونکي(د تشکیل په رڼا کې) |
| کوډ: | |
| د کتنې نېټه: | ۱۳۹۷/۱۱/۲۸ |

**د دندې موخه:** د کمېسیون مرکزي او ولایتي څانګو د کارکوونکو د مالي اړتیاوو ملاتړ لپاره د دفتري چارو، تخصیصاتو او د حوالو تنظیمول.

**د دندې واکونه اومسوولیتونه:**

۱. د ادارې ټاکل شویو موخو ته د رسېدلو لپاره د عمومي پلان په رڼا کې د میاشتنۍ، ربعوار او کلني کاري پلان جوړول.
۲. د چارو ښه او په موقع پر مخ وړلو لپاره لپاره د مالي سندونو تنظیم او ترتیب.
۳. د چارو د ښه سرته رسولو په پار د اړوندو مراجعو د مالي سندونو طی مراحل او بشپړول.
٤. اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د لګښتونو او تجهیزکولو لپاره د وړاندیزونو ترتیب او طی مراحل کول.
٥. له مالي او حسابي آمریت سره په همغږۍ د چارو ښوالي لپاره د نقدي او محاسبوي حوالو اجراکول.
٦. د تقسیم او تخصیص اجرا لپاره د مالي او بودجوي فورم ترتیب او اړوند مراجعو ته استول.
۷. پر وخت د تخصیاتو او لګښتونو ترلاسه کولو لپاره له مالیه وزارت سره د اړیکو، پرمختګونو او همغږیو تامینول.
۸. د ادارې د مشرتابه خبرولو لپاره د میاشتني، ربعوار، کلني او د اړتیا پر وخت د خپلو کړنو او لاسته راوړنو په اړه راپور ارایه کول
۹. د قانون او مقررو په رڼا کې د هغو ټولو کړنو تر سره کول چې د اړوندو مقاماتو لخوا د ادارې موخو لپاره ورسپارل شوي وي.

---

**د ګمارنې شرطونه (د تحصیل کچه او کاري تجربه):**

د دندو دغه لایحه د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون ۷ او ۳۴ موادو په پام کې نیولو سره د لاندې شرطونو او معیارونو په لرلو جوړه شوې:

۱. داشتن حداقل سند تحصیلی لیسانس در یکی از رشته های: اداره تجارت، اقتصاد، اداره عامه، مدیریت عمومی، مدیریت مالی و حسابی، حسابداری و به درجه تحصیلی بالاتر در رشته های متذکره ارجحیت داده میشود.
۲. له لاندې څانګو څخه په یوه څانګه کې لږ تر لږه د لیسانس تر کچې سند لرل: اداره او تجارت، اقتصاد ، عامه اداره، عمومي مدیریت، مالي او حسابي مدیریت، حسابداري. د لوړو زده کړو وګړو ته لومړیتوب ورکول کېږي.
۳. په اړونده برخه کې د یو کال کاري تجربې لرل.

۴. په رسمي ژبو(پښتو او دري) بشپړ حاکمیت لرل او انګلیسي ژبې سره( د خبرو او لیکلو) تر کچې بلد وي .
۵. دندې پورې اړوندو کمپیوټري پروګرامونو کې مهارت لرل.